II ضمیمه
مقرره 3-722

ګرانو والدینو/سرپرستانو:

د دې لیک موخه دا ده چې تاسو ته د هغه طرزالعمل په اړه معلومات درکړو چې د پرنس ویلیم کاونټي عامه ښوونځیو (PWCS) لخوا د کورسونو د ارزونې لپاره تعقیبیږي کوم چې د والدینو لخوا د کور لاربښوونې پروګرام تر لاندې د زده کوونکو لخوا د ویرجینیا کوډ § 22.1-254.1 احکامو سره په مطابقت بشپړیږي.

هر هغه کورس چې لپاره یې د عالي ښوونځي فراغت په لور د کریډیټ وړاندیز کیږي، د مناسب ښوونځي کارکوونکي لخوا به ارزول کیږي ترڅو دا ډاډ ترلاسه شي چې زده کوونکي په دغه مضمون کې مهارت تر لاسه کړئ. دا ارزونه به عموما د هغه کار بیاځلې تکرار باندې مشتمل وي چې د زده کوونکي لخوا د کور لاربښوونې پرمهال تر سره شوي وي او/یا د ښوونځي کارکوونکو لخوا به آزموینه اخیستل کیږي. په ځینو مضامینو کې، لکه د موسیقۍ یا هنر پورې اړوند کورسونه، د زده کوونکو پرفارمنس یا ننداره کونه هم ممکن د ارزونې یوه برخه وي. په ارزونه کې د مرستې په موخه، له والدینو څخه غوښتل کیږي چې د آزموینو، کاري پاڼو، کورسونو، درسي کتابونو، او د دا ډول نورو اسنادو کاپي چمتو کړي کوم چې به د کارکوونکو سره د زده کوونکو د لاسته راوړنو په ارزولو کې مرسته وکړي.

که چیرته اداري کارکوونکي دا په ډاګه کړي چې د زده کوونکي لخوا په مضمون کې مهارت ترلاسه شوی دی، کورس به د زده کوونکي په ټرانسکریپټ (اطلانامه) کې د کامیاب لپاره د "P" درجې یا ګریډ سره مستند شي. یو یاداښت به هم ولیکل شي چې کورس هغه وخت بشپړ شوی وو کله چې زده کوونکی د کور لاربښوونې په پروګرام کې وو. که چیرته په مضمون کې مهارت لرل تصدیق نه شي، د زده کوونکي په مهالویش کې به بدلون رامینځته شي ترڅو مناسب کورس اخیستلو ته اجازه ورکړل شي.

دا زمونږ خواهش دی چې PWCS ته ستاسو د زوی/لور ننوتل/بیا ځلې ننوتل د امکان تر حده پورې خوندور جوړ کړو. په دې برخه کې ستاسو د همکارۍ څخه مننه. مونږ تاسو او ستاسو زوی/لور ته په PWCS کې ښه راغلاست وایو.

د پرنس ویلیم کاؤنټي عامه ښوونځي